# دَ قلندر مومند افسانې

مصطفٰي کمال

موږ که دَ پښتو افسانه دَ لرم پېرنګي (J.G.Lorimar) دَ افسانوي طرز قيصې (کال ۱۹۰۱ء) نه را واخلو نو دَ استاذ راحت نه راپه دېخوا دَ عبدالکريم مظلوم، عبدالخالق خليق، ماسټر عبدالکريم، اجمل خټک، سېد رسول رسا، امير حمزه خان شنواري، نادر خان بزمي، مراد شنواري، مفلس دراني او مهدي شاه باچا غوندې نوميالو اديبانو تر ډېره په پښتو کښې دَ افسانې روايت ژوندے ساتلے ؤ، بلکې تر خپله وسه ئې دَ خپلو خپلو تجربو په حواله په دغه روايت کښې دَ ژوند صداقت او حقيقت ته پوره پوره حرارت او حرکت ورکړے ؤ، يا دا به ووايو چې که هر څو په فني او تکنيکي لحاظ پښتو افسانه دَ نشست و برخاست سره مخ وه خو په موضوعاتي اعتبار دغو افسانه نګارانو دَ ژوند دَ ډېرو حقيقتونو او صداقتونو دَ نمائندګۍ ډېر حق ادا کړے ؤ خو بيا هم په لويديز او دېخوا په اردو افسانه کښې چې دَ فن او تکنيک تجربو کوم ترقي يافته شکل او صورت اختيار کړے ؤ، په مجموعي توګه زمونږ افسانه دَ هغې دَ سيالۍ پوره جوګه نه وه. په داسې حالاتو کښې دَ جديدې پښتو افسانې دپاره دَ يو داسې نابغه افسانه نګار ضرورت ؤ چې دَ عالمي ادب دَ مطالعې او ژورې مشاهدې په رڼا پښتو ادب دَ نوو تقاضو او ضرورتونو سره پوره پوره اشنا وي او دغسې دَ جديد پښتو ادب عموماً او دَ پښتو افسانې خصوصاً لويه خوش قسمتي وه چې دَ قلندر صيب غوندې هستي ورله په لاس ورغله.



قلندر صيب دَ ترقي پسند سوچ او اپروچ شاعر، اديب او افسانه نګار ؤ. دَ کومې دَ ادبي نظريې په حقله چې دَ انجمن ترقي پسند مصنفين په وړومبي اجلاس کښې دَ اردو ژبې نوميالي افسانه نګار منشي پريم چند دَ خپل مرګ نه څو مياشتې وړاندې وئيلي وو.

همارى كسوٹى پر وه ادب پورا اُترے گا، جس مين تفكر هو، ازادى كا جذبه هو،تعمير كى روح هو، زندگى كى حقيقتون كى روشني هو، هم مين حركت،هنگامه اور بې چينى پيدا كرے، سُلائے نهين كيونكه اب اور زياده سونا موت كى علامت هوگى".

او كهٔ مونږ دَ قلندر صېب افسانې په دغه تله وتلو نو دَ دغو افسانو فن او موضوعات نهٔ صرف دا چې دَ پښتو بلكې دَ نړۍ دَ كلهم معيارې افسانوي ادب په لحاظ هم دَ قدر وړ اثاثه ګرځي.

د قلندر صېب دَ افسانې دَ ټولو نه غټ كمال دا دے چې بنده ته دا احساس نهٔ كېږي چې ګني په تخيلاتي وقوعو افسانې ليكلې شوي دي بلكې داسې ښكاري لكه چې حقيقي وقوعو ته دَ افسانو نومونه وركړې شوي دي. دغسې دَ دغو افسانو دَ موضوعاتو دَ ښكلا شاته چې دَ فن او تكنيك كومې باريكۍ پرتې دي، هغو ته رسېدل شايد چې دومره ګران كارنهٔ وي خو ډېر په معذرت سره وايم چې دَ دغو دَ تخليق مېدان دَ قلندر صېب نه وړاندې هم خالي وو او تر ننه لا دغه خلا محسوسېږي. زما په خيال كهٔ دا دَ پښتو افسانې خوش بختي وه چې قلندر صېب ورله په لاس ورغے نو دا ئې بدبختي هم ده چې بل قلندر ئې پېدا نهٔ كړے شو. محترم ډاكټر محمد اعظم اعظم دَ قلندر صېب دَ افسانو، دَ افسانوي حقيقت او حقيقي افسانه نګارۍ په حقله په خپل كتاب "پښتو افسانه، تحقيق او تنقيد" كښې ليكي:

"د قلندر په وړاندې دَ ژوند هر حقيقت يوه افسانه ده او دَ هغهٔ په هره افسانه دَ حقيقت ګمان كېږي".

د قلندر صېب دَ افسانوي مجموعې "ګجرې" په وړومبۍ افسانه "ګجرې" كښې دَ ماشومې شېرينۍ معصوميت، دَ شېردل بې وسۍ او دَ خان زبردستۍ يو داسې تكون جوړ كړے دے چې په هر ګُټ كښې ئې دَ ژوند حقيقي زاويې برېښي. دَ شېردل كردار دَ خان دَ ظلم او دَ شېرينۍ دَ تنكي ارمان دَ درنو پلونو ترمېنځه دلېږي. دَ دغه كردار دَ نفسياتي كرب او ذهني اضطراب برخېرنه قلندر صېب څهٔ په دې ډول كوي:

"يره چې نن به دَ مياشتې څوېمه وي، هغهٔ له ځانه پوښتنه وكړه او چې دَ خپل سوال دَ ځواب جوړولو په غرض ئې سپوږمۍ ته وكتل نو دَ شېرينۍ په معصوم مخ ورته دَ اوښكو قطرې ورپه ياد شوې او سپوږمۍ ورته عن داسې ښكاره شوه لكه ماته ګجره..".

"هغهٔ چې دَ غنمو دَ قودو ترلو دپاره دَ غنمو دَ ډكو ونډنے جوړ كړو نو ناڅاپه ورته بيا دَ شېرينۍ ګجرې رايادې شوې".

په داسې حالاتو كښې دَ جديدې پښتو افسانې دپاره دَ يو داسې نابغه افسانه نګار ضرورت ؤ چې دَ عالمي ادب دَ مطالعې او ژورې مشاهدې په رڼا پښتو ادب دَ نوو تقاضو او ضرورتونو سره پوره پوره اشنا وي او دغسې دَ جديد پښتو ادب عموماً او دَ پښتو افسانې خصوصاً لويه خوش قسمتي وه چې دَ قلندر صېب غونډې هستي ورله په لاس ورغله.

د قلندر صېب دَ افسانې دَ ټولو نه غټ کمال دا دے چې بنده ته دا احساس نۀ کېږي چې ګني په تخیلاتي وقوعو افسانې لیکلې شوې دي بلکې داسې ښکاري لکه چې حقیقي وقوعو ته دَ افسانو نومونه ورکړې شوي دي. دغسې دَ دغو افسانو دَ موضوعاتو دَ ښکلا شاته چې دَ فن او تکنیک کومې باریکۍ پرتې دي، هغو ته رسېدل شاید چې دومره ګران کارنۀ وي خو زۀ بیا په معذرت سره وایم چې دَ دغو دَ تخلیق مېدان دَ قلندر صېب نه وړاندې هم خالي وو او تر ننه لا دغه خلا محسوسېږي.

"او چې هغۀ چائے ښنلي نو شېرینۍ دَ دُروزې نه بنګړي جوړول او چې شېردل ورته وکتل نو هغه بې واکه شو. دَ هغۀ ټول بدن په رپېدو شو او په سر ئې درد راغے".

د دې مسلسل نفسیاتي عذاب په وروستي پړاؤ چې دَ خان دَ مېنې نه دَ بې دخله کولو دپاره دَ شېردل په لاسو کښې هتکړۍ وشرنګېږي نو دَ ناپوهې شېرینۍ دَ کوچني ارمان په دې اظهار چې:

" ماله هم داسې راوړه ښه بابا، خو چې دا زنځیرونه ورسره نۀ وي..."

د شېردل په مُسکا به دَ لوستونکي زړۀ دارې نۀ وهي نو څۀ به کوي؟

"لړګے" هم دَ قلندر صېب په دغسې طبقاتي لاندې باندې یوه داسې افسانه ده چې پکښې هغه اول داؤد او غنم رنګ دَ ورورولۍ په کلکه رشته وتړي او بیا دَ خپل فن په هنر د دغې رشتې ولونه داسې پرانزي چې په ټوله افسانه کښې دَ غنم رنګ او داؤد دَ بېلتون پوله په یو نښ یو شان ولاړه وي. دلته دَ پریګۍ کردار هغه استعاره ده چې کۀ یو خوا دَ غنم رنګ دَ بې وسه زړۀ ارمان دے نو بل خوا دَ داؤد دَ عیاشۍ سامان. دَ قاضي ماما دَ هټۍ په سپوري دَ داؤد استحصالي کردار، غنم رنګ ته څۀ چې هر لوستونکي ته ښۀ له نژدې نه دا وښئي چې دَ زېلې طبقې دَ هر حق او هرې جذبې استحصال ممکن دے او کېږي، تر دې چې دَ سوچه مینې هم.

په "شرم" کښې قلندر صېب دَ ژوند په لوئے بهیر کښې هغه کردارونه رانیسي کوم چې دَ حالاتو چپو مخ په ښکته روان کړي وي. دلته دَ خان لالا کردار دَ Round Character په حواله یو داسې شاهکار دے چې اول دَ خپلو جذباتو په ښوئیدانې وښوئېږي، خو چې ځان راټینګ کړي نو دَ مظلومې او معصومې شفاګۍ سره دومره کلک ودرېږي چې دَ خپلې مور ناحقې ته هم حقه نۀ وائي او کله چې دَ شفاګۍ په متیزه تلو دَ خان لالا! مور وائي چې:

"ښۀ شوه چې لاړه، خدائے دَ کلي شرم راوستۀ" نو دَ خان لالا دَ خُلې دا الفاظ ووځي چې:

"د کلي شرم لاړۀ کۀ راغے".

د بې حسه معاشرې په ناوړو هم طنز دے او هم ماتم. چرته چې دَ شفاګۍ غوندې بې اسرې کُنډې نۀ خپل عزت ساتلے شي او نۀ ئې ترې تښتولے شي.

په "حبیب بنام سرکار" کښې دَ قلندر صېب طبقاتي شعور دومره راپاربدلے دے چې دَ عاجز حبیب ماما بوډا او کمزورے وجود په خپل حق پسې تر اخره وزغلوي او تر دې چې مړ ئې کړي خو قلندر صېب دَ ظالم ګربوان او دَ مظلوم حمایت پرې نۀ ږدي. دَ دې افسانې کردارونه دَ هند دَ اړې ګړي په فضاء کښې ساه اخلي او هم په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې کۀ یو خوا دَ حبیب ماما دَ لور ګُلشۍ کردار دَ

هندوانو او سیکانو دَ فساداتو ښکار شي نو بل خوا حبیب ماما عاجز هم دَ خپل اولس دَ اوچتې طبقې دَ فساد نه بچ پاتې نهٔ شي. دَ افسانې په اخره کښې چې کمښتې والا دَ حبیب ماما ارمانژن او بې ځوکه مړے په ګاډي کښې یوسي او دَ صېب چپړاسي په واز کومي "د حبیب بنام سرکار" چغې وهي نو قلندر صېب دَ خپل درد او کرب پنګه په دې راغونډه کړي:

"او ما وئیل چې دَ حبیب ماما سرکار سره لا بله کومه مقدمه پاتې ده".

"صرف شرفاء کیلئے" قلندر صېب واقعي چې صرف دَ شریفانانو دپاره لیکلې ده، دَ کومې چې اصل هدف هغه لباسي شریفانان دي، دَ چا دَ مخونو نه چې قلندر صېب دَ کردارونو د مکالمو په زور په ډېره اُستکارۍ پردې راښکلې دي. دَ دې افسانې دَ ټولو نه غټ فني خصوصیت دا دے چې دَ افسانې ټوله اډانه په مکالمو اړه لري او په پښتو کښې دا قسم افسانه دَ خپل دغه خاصیت په حواله وړومبنۍ او کامیابه تجربه ده.

د "نیمګړې نیمه خوا" سرورے دَ خپلې بې ارزۍ کچکول په لاس کله دَ خان نه کله دَ خان دَ ناظر ملنګ نه او کله دَ ډاکټر نه دَ خپلو ارمانونو یعنې دَ زوي جاني او اسپې دَ سرونو خبر غواړي خو چې هر ځائے ورټلے شي او په اخر کښې خپلې ښځې دُرانۍ ته دَ دې وئیلو نه ترهه وخوري چې دَ اسپې په مرګ هغه "نیمګړے" شو نو دَ زوي جاني په مړې دَ دُرانۍ، دَ "زما نیمه خوا جانیه!" ویر دَ سروري المیه تر داسې معراجه ورسوي، چرته چې صرف دَ قلندر فن تلے شي.

"مبارکے" دَ یتیم او حساس تعلیم یافته زلمي عزیز او دَ هغهٔ دَ کُنډې مور دَ نیمګړي ارمان قیصه ده. دَ دې افسانې موضوع دَ دربمې دنیا دَ غریبو، قابلو او حساسو تعلیم یافتهٔ زلمو او دَ هغوي دَ عاجزو میاندو دَ جدوجهد او محرومو نه تاوېږي.

"مېمونۍ شنه شوه په خندا شوه" دَ سماجي ژوند او په تېره تېره دَ پښتون معاشرت دَ کتاب هغه باب دے په کوم کښې چې دَ پریزادو غونډې پاک لمنې غریبې پېغلې یو خوا دَ خانخېل غونډې دَ کاسیرو خانانو دَ هوس ښکار شي او بل خوا دَ معاشرې دَ بې حسۍ او بې دردۍ. دَ پرېزادو دَ کردار دَ دې نه غوره کردار نګاري نوره څهٔ کېدے شي چې هغه دَ "خان" دوي کره دَ اختر مبارکۍ له لاړه شي نو دَ "خان" نه څنګزنه شي او چې دَ خان مور ورته وائي چې "بچې! دا خو دې ورور دے" نو دَ پریزادو په دې یوه خبره کښې دَ هغې ټول معصومیت، حیاء او پاکبازي رانغښتې ده چې "نهٔ چا چې زهٔ ترې شرمېږم" خو کاسیر خانخېل دَ دغې شریفې او غریبې عزت تار په تار کړي. ټوله معاشره لګیا وي دَ پریزادو دَ عزت او دَ هغې دَ ماشومې لور دَ جنازو خاموشه تماشه کوي خو قلندر صېب نهٔ چُپ وي او نهٔ خاموش تماشائي.

"تسلي بخش" هم دَ خان ازم په ضد دَ بناتي دَ بې وسه او بې کسه رد عمل روداد دے چې هغه ئې هم دَ خپلې غلې دپاره دَ خپل وژلي شوي زوي جلاتي په مرګ کوي. دَ سرکار او بادار دَ شریک جرم له خبتې رازبېډلې دا المیه هسې ښکاري خو ډېره وړه او زړه خو قلندر صېب ورته یو داسې جدت او ابدیت بخښلے دے چې تازګي به ئې تر زمانو محسوسېږي.

"د خدائے نهر" دَ خپل اختصار له عمله دَ لوړې په موضوع یوه ډېره لویه افسانه ده، په کومه کښې

چې دَ لاندې طبقې دَ روټۍ او غریب دَ مسئلې په باب لـه ډېـره جامع نمائنـدګي شـوې ده. دغسـې "اباسینه ترکابله" هم دَ خرکارۍ دَ ناولو وارداتو په حواله دَ غریبۍ او بې وسۍ یو کُوچلے داستان دے چې دَ خپلې موضوع او ساده پلاټ په لحاظ یوه ښکلې فن پاره ده.

د "اوبهٔ او وینه" په ټوله افسانه دَ کمزوري نواب زورور کردار خور دے، څوک چې دَ غلام خان د یو نوکر په حېث دَ طبقاتي معاشرې په کړو وړو کُټ پېرونو کښې دَ محرومۍ دَ یو دائمي احساس نه پس هم دَ غلام خان دَ اوبهٔ خور دَ اوبو دپاره دَ سربلند خان دَ لاسه توئې شي. دَ دې افسانې دَ نواب کردار هم دَ خپل قوت او اهمیت په حواله دَ قلندر صېب دَ فن یو شاهکار دے لکه هډو دَ افسانې په شروع کښې دغه کردار په ډېر بشپړ شکل کښې څان وښئې لکه:

"دَ ژمي ماښامے ؤ، یخني دومره چې توبې ترې وباسه. دَ خُشکې یخې هوا دا وچې وچې چیچې، تا به وئیل چې هډو دَ ازغو چیچې دي. نواب په داسې حال کښې ایوه په اوږه مخ په قبله روان ؤ...".

او چې وړے نواب لږ نور وړاندې لاړو نو :

"هغهٔ ته دَ غلام خان حُجره ور په یاد شوه. نن خو ئې لا نور هم مېلمانهٔ راغلي دي. اوس به هغوی ډوډۍ خوري. دا څاربهٔ څاربهٔ اتامونه به وي زما صېبه! دا خوشبویه لاونونه به وي...."

"زما څادر هم نشته او غلام خان په خپله توده بړستن کښې پروت دے".

او دَ نیستۍ او مستۍ دَ دغه کشمکش روداد دَ نواب په مرګ ختم شي خو دَ قلندر صېب په فن کښې یوه دوامي درجه بیا مومي.

"تروږمـۍ" دَ مضبوط پلاټ، ساهو کردار نګارۍ او معیاري واقعه نګارۍ په حواله دَ څان ساري په خپله ده. دا دَ هغه تیارې علامت دے په کومه کښې چې دَ ملک صېب غوندې تورمخو او تور زړو خانانو عام خلق په تیارهٔ کښې ساتلې وي. تر دې چې خپل زوے تراب دَ یتیمې شمۍ دَ عزت په بدل کښې پولیس له ورکړي او وائي چې "دَ یتیمانو حیاء حیاء نهٔ وي..." خو په خپله ورته دَ شمۍ حیاء حیاء نهٔ ښکاري. دَ ملک صېب دَ خُلې دا الفاظ دَ تروږمۍ په توره تیارهٔ کښې دَ هغهٔ په تورکردار ډېره ساهو رڼا غورزوي چې:

"اول خومې درباندې زړهٔ نهٔ شو کولے، دَ تراب دې چار ښهٔ وي".

دغسې دَ قلندر صېب ټولې افسانې په یو نهٔ یو شکل کښې دَ ژوند یو نهٔ یو المیه راپورته کوي او دَ اردو ژبې دَ یو نقاد خبره چې ښه افسانه هغه وي چې دَ لوستو نه پس لوستونکے پرې نړدي او ورته یوه لمحهٔ فکریه ورکړي. زما په خیال دَ قلندر صېب هره افسانه ښه ده او دَ لوستو نه پس به داسې څوک نهٔ وي چې دَ دغه افسانوي سِحر نه څان خلاص کړي.

غرض دا چې دَ قلندر صېب افسانه زمونږ دَ پښتو افسانې دَ عروج هغه نقطه ده، چرته چې فن او حقیقت په اصلي صورت او زړهٔ پوري شکل کښې یو بل ته ترغاړه وځي. دَ دېو افسانو په لار زمونږ دَ ژوند المیې، دَ معاشرتي کردارونو نفسیاتي رویې، دَ ترقي پسندۍ سوچه رُجحان، موضوعاتي دروندوالے، فني پختګي، علامت نګاري او داسې ډېر څهٔ پښتو افسانې ته راننوځي.■